بُست پوهنتون

حقوق او سیاسی علومو پوهنځی

د اداري او ډیپلوماسۍ څانګې آمریت

# د اداري او ډیپلوماسۍ څانګې د ۱۴۰۲ کال د تطبیقی پلان کلنی راپور

# د مطالبو لړلیک

لومړنی خبرې : ........................................ 2
د 1402 کال تطبیقی پلان له مخې  تر سره سوي کړني: ........................................ 2
هغه کړني چي پلان سوي وي او نه دي ترسره سوي: ........................................ 3
هغه کړني چي تر لاس لاندي دي: ........................................ 3
د کار په بهیر کښي ستونزي: ........................................ 3
وراندیزونه ........................................ 3
د راپور تائید:........................................ 4

**لومړنی خبرې :**

د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی د بُست پوهنتون له شپږو پوهنځیو څخه یو فارغ ورکوونکی پوهنځی ده چی په دوه (د اداری او دیپلوماسی همدارنګه قضاءاو څارنوالی ) څانګو ویشل شوی ده چی په یاد پوهنځی کی څلور سمستره مشترک شکل سره تدریس پکی کیږی او پاتی څلور سمستره په جلا او د دیپارتمنت په اساس رشته بندی کیږی او د اته سمسترو وروسته محصلان د لیسانس په کچه ټولنی ته وړاندی کوی .

اداره او ډیپلوماسی څانګه هم څو دوری محصلان د ټولنی ته د خدمت کولو لپاره وړاندی کړی دی چی فعلا اکثره محصلان یی په مسلکی او غیر مسلکی برخه کی په دندو بوخت دی۰

د اداري او ډیپلوماسی څانګی د ۱۴۰۲ کال لپاره تطبیقی پلان ترتیب کړی وو چی تطبیق شوی دی او یی ټول پلان مطابق ترسره شوی فعالیتونه، اوکوم فعالیتونه چي په جريان کي دي او همدارنګه د فعالیتونو د ترسره کولو په وخت کي د کومو ستونزو سره مورږ لاسه او ګرېوان یو، پدې راپور کي ستاسو سره شریکوو.

**د 1402 کال تطبیقی پلان له مخی ترسره سوي کړني:**

1 - د پوهنتون په کچه نور ګن شمیر سیمنارونو کی لکه د یولس ګونو معیارونو توضح او تشریح ، د علمی پروګرامونو کلنی څار ، د برنامو دوره بیا کتنی او داسی نورو سیمینارونو کی د ګډون کړی دی ۰

2 - د یولس ګونو معیارونو لپاره دوسیي ترتیب او په مستنداتو یی کار شوی دی همدارنګه د دریم پړاو ارزونی په اړه ورکشاپ چی د تضمین کیفیت آمریت له خوا دایر شوی وو ګډون ترسره شوی دی ۰

3 - د څانګی په کچه د نصاب کمیټی له خوا د نصاب په اړه کتنه او ارزونه ترسره شوی ده همدارنګه د بهاری او خزانی سمسترونو د درسی موادو د حجم کتنی او ارزونی ترسره شوی دی په همدی ډول سره د ۱۴۰۱کال د بهاری او خزانی سمسترونو د کورس پالیسیانی د تطبیق څخه ارزونه هم ترسره شوی ده ۰

4 - دا چی اوسنی عصر د تکنالوژی ده نو په همدی خاطر زموږ ټول تدرسی خونی په ال سی ډی او پراجکټور باندی سمبال دی او ټول تدریسی چاری د تکنالوژی پر مټ مخ ته وړل کیږی همدارنګه مو محصلانو د میډیا اکشن له خوا په یو ساعته ان لین سیمینار کی ګډون کړی

5 - ۰استادانو او هم محصلانو ته مو تشویقی پروګرامونه دایر کړی دی چی په بهاری سمستر کی مو دری تنه محصلان چی د ټولګیو اول نمره ګان وو او تن استاد چی د کال په جریان یی خپل له ځانه وړتیا او تدریسی برخه کی یی نوښتونو څخه ګټه پورته کړی وه په ستاینلیکونو مو تقدیر او وستایل، په همدی ډول په خزانی سمستر کی مو یو تن محصل او یو تن استاد چی خپل کارونه او فعالیتونه یی خپل پر وخت او زمان ترسره کړی وو د ستاینلیک په ورکړی

سره وستایل. او همدارازمو د محصل نړیوالی ورځی د لمانځغوندی کی یو تن استا ته د ښه کړنو له وجی استاینلیک وکړل .

6 - د اداری کارمندانو د ظرفیت لپاره د پوهنتون په کچه د فایلینګ سیستم او د نظارت اړوند سیمینار او ورکشاپ د اقتصاد پوهنځی محترم استاد له خوا دایر شوی دی .

7 - دری علمي څیړنی ترسره سوی دی چی ټول شواهد یی شتون لری

**هغه کړني چي پلان سوي وي او نه دي ترسره سوي:**

I. داسی کوم څه نسته

**هغه کړني چي تر لاس لاندي دي:**

I. د ۱۴۰۳ کال د تطبیقی پلان څخه د څارپلان پاته دی همدارنګه د نظارت هییت ټاکل تر لاس لاندی دی

II. د نظارت فورمی ترتیب د لاس لاندی دی

III. د نظارت څخه وروسته د لومړی ربعی راپور ترتیبول پاتی دی .

**د کارپه بهیر کښي ستونزي:**

I. کاری دفترفضا کرم والی .

**وړاندیزونه**

- په خانګه کی د انټرنیټ نشتون

2 - د تطبیق اندازی معلومولو کچه



## 3 - د تطبیقی پلان څخه د څارد پلاوی وړاندیزونه او نظریات ۰

د څار پلاوی  د اداري او ډیپلوماسی څانګې د تطبیقی پلان څخه د نظارت او څار څخه وروسته ځینی مواردو سره مخ شول چی یا په پلان کی ځای نه ؤ ورکړل شوی او یا هم تطبیق شوی نه ؤ هغه موارد د وړاندیز په ډول د راتلونکی کال تطبیقی پلان لپاره په لاندی ډول وړاندی په لیکلی بڼه وړاندی کړل

A. په تیرکال کی څیړنی نه وی ترسره شوی نو باید د راتلونکی کال په تطبیقی پلان کی ځای کړل شی  ترڅو استادان او هم محصلان څیړنی ترسره کړی ۰

B. په ملی او نړیواله کچه استادانو او محصلانو ته ان لین سیمینارونه دایرولو  په اړه موارد ځای کړی ترڅو په ملی او نړیواله کچه په ان لین زده کړو کی ګډون وکړی۰

C. د کادر دایمی استادانو تقرری پروسه کړندی او دوسیې یی تکمیلی کړی ۰

### د راپور تائید:

**پورته د اداري او ډیپلوماسی څانګی راپور د څانګې د مجلس په ( ۲۲ / ۱۲ /۱۴۰۲) نیټي په ( ۱۲ ) ګڼه غونډه کی تائید سو.**

**څانګی آمر: محمودخان قاسمي**          **لاسلیک:**

**پورته اداري او ډیپلوماسی څانګی  راپور د پوهنځی د علمی شورا په ( ۲۴ / ۱۲ /۱۴۰۲) نیټي په ( ۱۸ ) ګڼه غونډه کی تائید سو.**

**پوهنځی ریس: نورالله عزیزی**          **لاسلیک:**